# مسیر

ورځپانه

نوی لید، نوی مزل

www.maseerdaily.af

یکشنبه د ۱۳۹۹ د لړم ۱۸مه | د ۲۰۲۰ د نومبر اتمه | ۶۲۴مه ګڼه


## پوهنتون

۴ مخ

### راه ابریشم د لوړو زده کړو خصوصي موسسه

د نظري زده کړو تر څنګ د عملي زده کړو زمینه برابرول او د محصلینو د وړتیاوو لوړولو په خاطر له دوو ترکي او یوه هندي پوهنتون سره د علمي اړیکو جوړول؛ د دې موسسې له ښو امکاناتو دي.

موسسه تحصیلات عالی راه ابریشم
RAHE ABRISHUM INSTITUTE OF HIGHER EDUCATION
راه ابریشم د لوړو زده کړو موسسه

# جګړه او بوربنوونکي تبلیغات؛


## د سولې فعالین: د حکومت او طالبانو اوسنی دریځ د سولې فرصت ضایع کولی شي



۳

© Reuters/Parwiz

### کرنې وزارت: په هېواد کې پر ۲۸۰ زره بزګرانو د غنمو د اصلاح شویو تخمونو د وېش لړۍ پیل شوه



کرنې او مالدارۍ وزارت وايي چې د منې موسم د غنمو د کرکېلې په پار يې په ۳۴ ولایتونو کې پر یوشمېر بزګرانو د غنمو د اصلاح شویو تخمونو د وېش لړۍ پیل کړې ده.

د دې لړۍ په ترڅ کې د هېواد په کچه په ۲۸۰ زره بزګرانو د غنمو ۱۴ زره مېټریک ټنه اصلاح شوي تخمونه وېشل کېږي.

دغه لړۍ، چې څو ورځې مخکې پیل شوې، په ترڅ کې يې تر دې دمه د بامیان، لوګر، سرپل، پنجشیر او پروان پر یوشمېر بزګرانو د غنمو اصلاح شوي تخمونه وېشل شوي دي.

د غنمو یاد ۱۴ زره مېټریک ټنه اصلاح شوي تخمونه د نړیوال بانک په مرسته د څه باندې ۶۲۱ میلیونه افغانیو په لګښت چمتو شوي او د کرنې وزارت د کرنې د ودې او خوړو خوندیتوب پروژې له لارې وېشل کېږي. د کرنې وزارت مسوولین وايي چې دغه تخمونه د سبسایډي په ډول وېشل کېږي، چې ۶۰ سلنه لګښت يې د کرنې وزارت او ۴۰ سلنه نور لګښت يې برخمن شوي بزګران پرې کوي.


د جنایتونو دوام او د ارګ د بې پایلو څېړنو ژمنې — ۲ مخ

وروستي بریدونه او د سولې پر خبرو يې غوړېدلی سیوری! — ۲ مخ

د پنجاب څېره خواره ملا ته! — ۳ مخ


### استرالیا: په افغانستان کې مو د ځواکونو له خوا د شویو جنایتونو په اړه جدي پلټنې کوو

د ګڼو افغان او نړیوالو ادارو او بنسټونو تر نیوکو او فشارونو وروسته استرالیا وايي، په افغانستان کې يې د خپلو ځواکونو د جنګي جنایتونو په اړه جدي پلټنې پیل کړې دي. د یاد هېواد د دفاع وزارت چارواکو په تازه څرګندونو کې ویلي، دوی ټول هغه راپورونه په جدي توګه څېړي چې د استرالیا د ځانګړو ځواکونو او په افغانستان کې د دغو ځواکونو د ماموریت او جنګي جنایتونو په اړه خپاره شوي دي. استرالیایي رسنۍ د یادو چارواکو له قوله وايي، دوی تر دې دمه لس قضیې څېړلې چې په هغه کې لږ تر لږه شل کسان ښکېل دي او دوی به د خپلو اعمالو سزا ویني. استرالیا همدا راز وايي، د دغو راپورونو خپرېدل د دې سبب شوي چې دوی د خپلو ځانګړو ځواکونو په جوړښت کې پراخ اصلاحات راولي او د ټولو هغو ادعاوو پلټنه وکړي چې د استرالیايي ځواکونو په اړه موجود دي.

دا په داسې حال کې ده چې استرالیایي ځواکونو له ۲۰۰۵ تر ۲۰۰۶ز کال پورې په ارزګان کې ماموریت ترسره کاوه چې د ګڼو ملکي افغانانو په وژنه او شکنجه تورن شوي دي. په دې وروستیو کې د افغانستان او نړۍ د بشري حقونو په برخه کې پنځه ویشت بنسټونو د استرالیا له حکومت د ټولو جنګي جنایتونو د څېړلو غوښتنه کړې وه.

### ځینې کړۍ پر پاکستاني ویزو د ورځې یو لک ډالر بډې اخلي



۲ مخ

### ارگ، حمله بر جان یما سیاوش را «تروریستی» خوانده و آن را محکوم کرده است



یما سیاوش گردانندۀ پیشین تلویزیون طلوع و دو تن دیگر که صبح دیروز در یک انفجار در شهر کابل جان باختند، در حال حاضر کارمندان «د افغانستان بانک» بودند.


فردوس فرامرز سخنگوی قوماندانی امنیۀ کابل گفت که حوالی ساعت ۰۷:۴۵ صبح دیروز، در مربوطات ناحیه نهم ساحه مکروریان چهارم شهر کابل، یک عراده واسطه نوع کرولا هدف ماین مقناطیسی قرار گرفت، که در اثر آن سه فرد ملکی جان باختند. بکتاش سیاوش عضو پیشین ولسی جرگه و برادر یما سیاوش، گفته است که در این حادثه، یما سیاوش گرداننده پیشین تلویزیون طلوع جان باخته است.

این حمله که هنوز مسئولیت آن را تاهنوز کدام گروه بر عهده نه گرفته است، با واکنش های شدیدی روبرو شده است.

ارگ، حمله بر جان یما سیاوش، یکی از خبرنگاران کشور را «تروریستی» خوانده و آن را محکوم کرده است. صدیق صدیقی، سخنگوی ریاست‌جمهوری در صفحه تویترش نوشته است که یما سیاوش به تازه‌گی کار را با دولت آغاز کرده بود. سپیدار نیز با نشر اعلامیه‌یی هدف گرفتن جوانان را «جنایت نابخشودنی» خوانده است.

عبدالله عبدالله، رئیس شورای عالی مصالحۀ ملی از نهادهای کشفی و استخباراتی خواهان شناسایی عاملان این روی‌داد شده است. در بخشی از اعلامیۀ سپیدار آمده است که هدف گرفتن خبرنگاران، هدف گرفتن آزادی بیان است.

کاربران شبکه‌های اجتماعی نیز کشته شدن یما سیاوش را برای خانوادۀ رسانه‌یی افغانستان ضایعۀ بزرگ خوانده و از دولت خواستار تأمین امنیت خبرنگاران شده‌اند.

Aksos

اکسوس کتابپلورنځی

Aksos Book Store

Add a Book to Your Life

دهبوریو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ

0798-98-9696, 0202504652

aksosbookstore@gmail.com

www.aksosbookstore.af

Aksos Book Store

Aksos Book Store

## دریځ

### د جنایتونو دوام او د ارګ د بې پایلو څېړنو ژمنې

د جنایتونو او جرمونو د وروستیو پېښو د غندنې تر څنګ، ارګ یو ځل بیا د څېړنو ژمنه کړې ده. پرون په کابل د افغانستان بانک سلاکار یما سیاوش او د هغه دوه همکاران په یوه چاودنه کې ووژل شول. ارګ وایي دا پېښه به څېړي. تر دې وړاندې هم پر کابل پوهنتون او کوثر ښوونیز مرکز له برید وروسته، ارګ په دې اړه د څېړنو خبره کړې وه؛ خو ایا د څېړنو دا ژمنې پایله لري؟ وژنو او وحشتونو ته د ارګ او خلکو ظاهري غبرګون سره ورته دی، دواړه پېښې غندي؛ خو ارګ کله بیا پکې ور زیات کړي چې په دې اړه به پلټنې او څېړنې کوي. ارګ د سلګونو پېښو د څېړنو ژمنې کړې دي، خو د یوې پېښې پایلې هم له ولس سره شریکې شوې نه دي. ښایي په ځینو پېښو کې څېړنې شوې وي، خو هغه به هم نیمګړې او یا هم بې پایلې وي. د ځینو پېښو د څېړنې په نامه هسې نمایشي کارونه شوي او کله چې پېښه د خلکو له یاده وتلې، نو بیا پایلې هم پسې ورکې شوې دي. اوس چې ارګ بیا د څېړنو خبره کوي، لومړی خو غواړي ووایي چې دوی یو څه کوي او لاس تر زنې نه دي او بل دا چې غواړي په دې ډول ژمنو سره د خلکو احساسات کنټرول کړي.

د حکومت دنده د خلکو د مال او سر ساتنه ده، دنده یې غندل نه دي، نو ځکه مخامخ پړ دی. ارګ د پېښو په غندنو او یا د څېړنو په ژمنو سره ځان له مسوولیت څخه نه شي خلاصولی. دوی په خپله اساسي دنده کې ناکام دي؛ ورځ تر بلې وحشت زیاتېږي، جومات، ښوونځی، مدرسه، پوهنتون، روغتون او بل هېڅ ځای امن نه دی او د دې چارې مسوول بې کفایته ولسمشر او د ده د حکومت مفسد او کمزوري چارواکي دي. دا سمه ده چې دښمن وحشي دی، هېڅ ډول پولې نه پېژني، خو د حکومت دنده څه ده، ولې نه شي کولی چې د دغه ډول سترو پېښو مخه ونیسي او تر کله به موږ همداسې وېر کوو او د یو بل جنازې ته به اوږه ورکوو!؟ ارګ له مسوولیت څخه د تېښتې لپاره یا غندنه کوي، یا دښمن بد ګڼي او یا هم د څېړنو خبره کوي؛ خو دا ټولې خبرې یې نه د وینو او وژنو دا لړۍ دروي او نه هم کوم بدلون راولي. دا ډول بریدونه او پېښې که د وحشي دښمن څېره انځوروي، خو یو څوک خو باید ځواب ووایي چې څنګه دا ډول پېښې کېږي؛ یو څوک خو باید ځواب ووایي چې پر کوثر ښوونیز مرکز برید څنګه وشو او یو څوک باید ووایي چې د کابل پوهنتون د برید له امله کوم امنیتي چارواکی پړه دی، څوک ناکام دي او د چا فساد او ناکامۍ دښمن ته لاره پرانیسته چې دا ډول وحشت وکړي!؟

خلک نور د ارګ له بې ځایه غندنو، سیاسي لوبو، بې مانا او بې ارزښته څېړنو ستړي شوي دي. د وحشتونو د دې څپې مخه باید ونیول شي او په ارګ کې چارواکي دې د خلکو په سترګو کې د خاورې شیندلو پر ځای داسې عملي ګامونه واخلي، چې د دغو وحشیانه بریدونو مخه ونیول شي.

# وروستي بریدونه او د سولې پر خبرو یې غوړېدلې سیورې!

لیکنه: طارق صابر

په دې وروستیو کې د هېواد په ډېریو سیمو کې جګړې او هدفي وژنې یو ځل بیا ډېرې شوې دي. پرون د طلوع نیوز پخوانی خبریال یما سیاوش په هدفي برید کې ووژل شو. دغه راز د تېرې دوشنبې په ورځ په سپکو او درنو وسلو سمبالو بریدګرو د کابل پوهنتون پر حقوقي ستاژ خونړی برید وکړ. د پایلو له مخې، په برید کې ۲۲ محصلین شهیدان او ۲۲ نور ټپیان شوي دي. په داسې حال کې چې رویټرز خبري آژانس د امنیتي سرچینو له قوله لیکلي، چې په برید کې ۳۵ محصلین وژل شوي او تر ۵۰ زیات ټپیان دي. د ناټو عمومي منشي ینس سټولټنبرګ، پر کابل پوهنتون برید غندلی او ویلي چې د داعش پر ضد به مبارزې ته دوام ورکړي. د امریکا ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد هم ویلي چې برید داعش کړی او له حکومت او طالبانو یې غوښتي چې د ګډ دښمن پر وړاندې سره یو لاس شي. طالبانو هم په یوه اعلامیه کې پر کابل پوهنتون برید غندلی او دا کار د هغو ډلو کار بولي چې په مرکز او ولایتونو کې په مېلمستونونو کې دي؛ خو حکومت بیا ټینګار لري چې برید طالبانو کړی دی. د برید پر سبا ورځ د کابل پوهنتون په ځینو دېوالونو ناپېژانده کسانو د طالب مشرانو انځورونه ځوړند کړي وو، چې پرې لیکل شوي وو: «له طالبانو سره د سولې خبرې باید بندې شي» همدار راز د پېښې په ځای کې د طالبانو په وینو ککړ بیرغ هم عامو خلکو ته ډېرې پوښتنې پیدا کړې دي.

دا چې حکومت په طالبانو تور پورې کوي او طالبان بیا دغه برید او ځینې نور ورته بریدونه په مرکز او ولایتونو کې د ځای پر ځای شویو مېلمنو کار بولي؛ باید دواړه لوري ولس ته کره اسناد وړاندې کړي، چې څوک لاس پکې لري او بریدګر مېلمانه په چا پورې اړه لري؟

همدارنګه کله چې یو ستر وحشیانه جنایت وشي، ځینې بهرنۍ رسنۍ څو ساعته وروسته اعلامیه خپروي، چې برید داعش کړی دی. په داسې حال کې چې د داعش د ماتې خبرونه څو ځله خپاره شوي او امریکایي جنرالانو مخکې ویلي چې داعش نور په افغانستان کې له منځه تللی دی. اوس پوښتنه دا ده چې دا څه ډول مات شوی داعش دی چې د مرکز امنو سیمو ته پرته له سر خوږي؛ سپکې او درنې وسلې راوړي او په خورا وحشت محصلین، دیني عالمان، ښوونکي، تنکي ځوانان، ښځې او ژورنالیستان وژني!؟ که یاده ډله نه وي ماته شوې، ولې یې پر مرکزونو بریدونه نه کېږي؟ په داسې حال کې چې یاد کسان حکومت او امریکایانو ګوته په شمېر بللي دي!

همدار راز کله چې برید وشي، داعش یې له نامعلوم ادرسه پړه مني او له تروریزم سره د مبارزې خبره یو ځل بیا توده شي چې ورسره په کور د ننه د بهرنیو ځواکونو پر شتون او مبارزې ټینګار هم کېږي. همدا راز د افغانستان د کورنیو چارو پخواني وزیر او د امریکا د دفاع پوهنتون استاد علي احمد جلالي ویلي، چې بهرني ځواکونه له افغانستانه هغه وخت وځي، چې د سولې خبرې بریالۍ شي. داسې ښکاري چې افغانستان یوې بلې جګړې ته ننوځي. له همدې امله له نامعلوم ادرسه د سولې د خبرو په درشل کې خونړي بریدونه کېږي. په داسې حال کې چې داعش یوازې یو نوم دی او تر شا یې استخباراتي کړۍ فعالیت کوي. خلک وژني، وحشت خپروي، عامه افکار جلبوي او په وحشیانه حملو کې خپلې ګټې خوندي کوي. که داسې نه وي، پرته له استخباراتي همکارۍ د کابل په نسبتاً امنو سیمو پلان شوې وحشي حملې څوک کوي؟

دغه راز هر کله چې حکومت د حملو غچ اخیستلو ته لاس را بډ وهي، له بده مرغه په کلیو او بانډو کې ځینې نور عام افغانان وژل کېږي او جنګي اصول تر پښو لاندې کوي. حکومت د دښمن د له منځه وړلو لپاره لومړی باید له تناسبه کار واخلي؛ یانې له داسې وسلې د جګړې پر مهال استفاده وکړي، چې یوازې دښمن له منځه یوسي او نور څه زیان ونهویني. دویم؛ دوی باید دښمن او عام وګړي لومړی وپېژني او وروسته برید وکړي. دریم؛ کله چې حکومتي ځواکونه د جګړې په موخه یوې سیمې ته ځي، هلته باید له پورته اصولو سره سره له پوره احتیاطه کار واخلي. خو له بده مرغه حکومت تر اوسه په ډېری سیمو کې جنګي اصول نه دي مراعات کړي. له همدې کبله په غچ اخیستلو کې د دښمن په پرتله عام وګړي ډېر له منځه ځي. ولسمشر غني ویلي وو چې د کابل پوهنتون له بریدګرو به سخت انتقام واخلي؛ خو که پورته اصول بیا مراعات نه کړي، یو ځل بیا به عام ولس په وینو ولمبوي.

بلخوا په دوحه کې د حکومت او طالبانو تر منځ خبرې په ټپه درېدلې دي. وروستیو جګړو، هدفي وژنو او پر کابل پوهنتون وحشیانه برید د سولې روانې خبرې تر پوښتنې لاندې راوستې او سیورې یې پرې غوړولی دی. که په روان تاوتریخوالي کې دواړه لوري پر یو او بل نظامي فشار راوړي او پرته له کره اسنادو یو بل ښکېل وګڼي، وېره شته چې د سولې خبرې به بې پایلې شي او پړه به یې بیا پر دواړو لورو وي. له بده مرغه پر کابل پوهنتون له برید وروسته مکرره هڅه وشوه، چې د سولې خبرې بې پایلې شي او دا هڅه لا هم روانه ده. که سوله ونه شي، له عامو وګړو پرته بل څوک زیان ویني؟ عام ولس له یوې خوا د جګړې قرباني دی او له بلې خوا د پردیو موخو لپاره د هغوی له احساساتو ګټه اخیستل کېږي.

وروستۍ خونړۍ حملې؛ هېڅکله د توجیه وړ نه دي. له بده مرغه کرایي قاتلین، اوس پر اکاډمیکو او عامو سیمو بریدونه کوي، څو بې ساری وحشت وکړي او پردۍ ګټې خوندي کړي. حکومتي چارواکي په لومړي سر کې مسوولیت لري چې د خلکو امنیت خوندي کړي، خو دوی په پوره سپین سترګۍ له بریدونو ابزاري ګټې اخلي، د خلکو په امنیت کې پاتې راغلي او په څو مطبوعاتي اعلامیو ځان خلاصوي. افغانان له کلونو په پردیو جګړو کې راګیر دي، په سر کې د سولې خبرو ته ډېر هیله من وو؛ خو له بده مرغه وروستیو بریدونو او د جګړې شدت یې هیلې مړاوې کړې دي.

دغه راز افغان ولس ته پکار ده چې د جګړې ریښې وپېژني او په ټول توان مبارزه ورسره وکړي، څو قطع شي او له نورو ناخوالو وژغورل شي.

## عامې روغتیا وزارت: که احتیاطي تدابیر مراعات نه شي، افغانستان به د کرونا له دویمې څپې سره مخ شي

عامې روغتیا وزارت وایي چې په تېرو ۲٤ ساعتونو کې په هېواد کې د کرونا ٥٨ مثبتې پېښې ثبت شوې چې له دې سره په افغانستان کې پر دغه ویروس د اخته کسانو شمېر ۴۲۰۳۳ ته ورسېد.

د یاد وزارت له خوا تېره ورځ په خپره شوې خبرپاڼه کې راغلي چې په تېرو ۲٤ ساعتونو کې د هېواد په لابراتوارونو کې د کرونا ویروس ۲۱۸ شکمنې پېښې ازمایل شوې چې ٥٨ یې مثبتې دي.

سرچینه وایي چې د یادو پېښو په ثبتېدو سره په هېواد کې پر کرونا د اخته کسانو شمېر ۴۲۰۳۳ ته لوړ شو.

د عامې روغتیا وزارت د معلوماتو له مخې، په تازه ثبت شوو پېښو کې ۳۲ کسان په بلخ، لس په زابل، اووه په پکتیا، څلور په هلمند، درې په کندهار او دوه هم په ننګرهار ولایت کې پر کرونا ویروس اخته شوي دي.

د عامې روغتیا وزارت له لوري په خپره شوې خبرپاڼه کې په تېرو ۲٤ ساعتونو کې د هرات ولایت د کرونا ویروس د نویو مثبتو پېښو په اړه څه نه دي ویل شوي.

د دغه ولایت د عامې روغتیا ریاست ویاند محمد رفیق شېرزی وایي چې په دغه ولایت کې د اختصاصي موادو د نشتون له امله په تېرو څو ورځو کې د کرونا شکمنې پېښې نه دي ازمایل شوې.

د عامې روغتیا وزارت د خبرپاڼې له مخې، په تېرو ۲٤ ساعتونو کې د کرونا ویروس له امله دوه کسان مړه شوي چې په دې سره له دې ناروغۍ د ټولو مړه شوو کسانو شمېر ۱٥٥٦ ته ورسېد.

دا په داسې حال کې ده چې څه موده وړاندې د عامې روغتیا وزارت چارواکو ویلي وو، چې د کرونا پېښې په هېواد کې یوځل بیا د ډېرېدو په حال کې دي. عامې روغتیا وزارت دغه راز خبرداری ورکړی، که له احتیاطي تدابیرو کار وانه خیستل شي، افغانستان به هم د کرونا وبا له دویمې څپې سره مخ شي. یاد وزارت له خلکو غوښتنه کړې چې د کرونا ویروس د مخنیوي په موخه د دغه وزارت لارښوونې جدي عملي کړي.

## صالح: ځینې کړۍ پر پاکستاني ویزو د ورځې یو لک ډالر بډې اخلي

د ولسمشرۍ ماڼۍ لومړی مرستیال امرالله صالح وایي، هره ورځ تر یولک امریکایي ډالر د ځانګړې ډلې له خوا پر عامو خلکو د پاکستاني ویزو د خرڅلاو له درکه اخیستل کېږي.

دا په داسې حال کې ده چې په دې وروستیو کې د پاکستان د ویزو په اړه د خلکو شکایتونو زیات شوي او په تېره یوه میاشت کې څو ځلې د پاکستان سفارت مخې ته لاریونونه هم شوي دي.

صالح چې د روان کال د تلې له ۲٦مې وروسته یې د کابل ښار د امنیت مسوولیت پر غاړه اخیستی، پرون یې پر خپله فېسبوک پاڼه د دغه ښار د امنیت د ټینګښت په موخه خپل نولسم پلان اعلان کړ.



صالح د پاکستان د ویزو اړوند ستونزو ته په اشاره لیکلي: «د پاکستان د ویزو غوښتونکو لپاره د نظم رامنځته کېدو په برخه کې زموږ طرحه بشپړه شوې. منتظر یو چې د پاکستان سفارت د ویزو شمېر معلوم کړي.»

هغه زیاته کړې، اوس هم پوهېږي چې کومې کړۍ د پاکستان وېزې له مجاني حالته کمېشن کارۍ ته تبدیلې کړې دي. د نوموړي په خبره، شپږ کړۍ هره ورځ تر سل زره امریکایي ډالر د پاکستان د ویزو پلورلو له لارې له عامو خلکو اخلي.

دا په داسې حال کې ده چې نوموړي په دې اړه په ۱۷مه ناسته کې ویلي وو: «تر راتلونکو دوو- درېیو ورځو پورې د پاکستان سفارت مخې ته د ویزو اخیستلو د بیروبار او هجوم د مدیریت طرحه وروستۍ کېږي. خپله ژمنه به عملي کړو او اجازه نه ورکوو چې زموږ خلک د نظم د نه موجودیت له امله د ویزو اخیستلو پر مهال ورټل شي.»

هغه پر کابل پوهنتون د برید په اړه څېړنو ته په اشاره ویلي، پر کابل پوهنتون او کوثر کورس د بریدونو په اړه د څېړنو د پرمختګ اجمالي ارزونه ترسره شوې، ډېری معلومات تر لاسه شوي او هېڅ امکان نه لري چې دغه جنایتونه دې بې ادرسه پاتې شي.

# د پنجاب ځیره خواره ملا ته!

لیکنه: قاضي نجیب الله جامع

دې ورځو کې اورم چې د پنجاب د پوځ راشني ځیره خواره ملایان، چې اکثر یې د فرنگي سازش پر بنسټ په مسلمانو خاورو کې د شر او فساد ډاگیان دي، د افغانستان په کورنیو چارو او روانو سیاسي بدلونونو کې افراطي او توندلاري دریځونه نیسي.

زموږ خطاب له افغان دریځه دوی ته دا دی چې ستاسو او ننگ یې سره څه؟؟ ستاسو او زموږ ایمان او اسلام ته د خطر یې سره څه؟؟ تاسو پرون هم د اسلامي امت د ټوټه کولو، بېلتون او تفرقې سبب شوي یاست او نن هم یاست، لومړی مو د بنگال په سر د پنجاب د خوندیتابه لپاره معامله وکړه، بیا مو د پنجابي یهودیت پر بنسټ د مسلمانو بنگیالانو معصوم او مظلوم عزتونه، حرمتونه او شرافتونه ور ولټول.

تاسو او خدای د کشمیر د مسلمانانو په سر مو د پنجابیانو د ځمکو د خروبولو په پاره د سیند طاس تړون په نوم له همدغو هندوانو سره معامله ونه کړه؟ د سرې جگړې پر مهال مو د نړۍ ټولو کفارو ته په خپل ملک کې اډې ورنه کړلې؟ همدا اوس له بحرین، اماراتو او سوډان سره د اسراییلو د اړیکو په جوړولو کې د پنجاب د رول اړوند، د فاکس نیوز راپور د څه شي کیسه کوي؟ د (آی ایس آی) او (سي آی اې) تر منځ د افغان مجاهدینو د جنگولو او د طالبانو د اسلامي حکومت د راپرځولو مستند راپورونه د کوم اسلامیت یادونه کوي؟ پر افغانستان د یرغل او د طالب د راپرځولو امریکایي قومنداني، رهبري او کوردینات ستاسو د رهبرانو په اجازه، ستاسو د استخباراتو په همکارۍ او ستاسو له ملایانو سره په معامله ونه شول؟ لعل جومات ستاسي واکمن بمبارد نه کړ؟ ډاکتره عافیه صدیقي ستا د جاسوسانو د مالوماتو پر بنسټ امریکا ته ونه سپارله شوه؟ تا کرتارپور له هندو پنجابي سره د پنجابیت د اړیکې پر بنسټ ۲۴ ساعته پرانیستی نه و؟ پر پښتون او مسلمان افغان دې له کراچۍ تر پینډۍ لارې ونه تړلې؟ ستا د استخباراتو پخواني مشر اسد درانی امریکا ته د القاعدې شبکې د مشر اسامه بن لادن په سر د پاکستان د همکارۍ اړوند اعتراف، د کوم اسلام او ورورولۍ کیسه کوي؟

سیکولار قانون، ملحد نظام، فاسد حکومت او په خاوره کې مو د منکراتو، فحاشیو، بې دینیو او بې حسابه اخلاقي ځوړتوبونو خو مو شمېر نه کېږي.

د دې ټولو اړوند د سمیع الحق، حامد الحق رسنیز دریځ؛ فتوی، لاریون او جدجهاد چیرته وو؟ ملا فضل الرحمن کله دا شرارت، فتنه او فساد بللې؟ کله مو خپل غبر پورته کړی دی او د اسلام د سپېڅلي دین له دریځه مو د پنجاب سیکولاره واکمنې غندلې، ننگولې او غبرگون مو ښکاره کړی دی؟

همدا ټول غیرتونه، عزتونه او عزمتونه هم بې حسابه وگڼۍ، د پنجابي ملا او مسلمان وجدان ولې ویښ نه و؟ ایمان یې چېرته و او د دین غم یې په کومه تاخچه کې ایښی و، چې پر افغان وطن د امریکا او یرغلگرو متحدینو د یرغل تېره ۲۰ کلنه اوږده موده کې ولې د دوی له خاورې د همدغه یرغل په ترانسپورټي کاروانونو، خوراکي توکو، ټانگونو، بمونو او د مسلمان وژنې په کتارونو برید ونشو؟ دا یې ولې ذهن ته رانغلل؟ دا اسلامیت ترې کومو اوبو وړی و او که دا هم نشوای کېدای، نو پر خپل حکومت او ریاست خو به یې کله هم فشار راوړی و، چې د افغان- مسلمان د وژلو وسایل منع کړي.

د بابړې ننگه، په پنجابي- فرنگي جبر کې د پښتون او بلوخ مسلمان د قتل عام، اسراییلي محکومیت او نازیستي ټولوژنې داستان او کیسه خو هسې اوږده او په هغه اړوند د دوی ایمان، وجدان او خیانت خو هېڅ د قضاوت وړ نه دی.

هسې خو هم دین، ایمان او رمضان د پټان په پچه ختلي او پنجابی دې سرېتوب ته د ټینگې نه دی.

له دې ټولو یوه خبره څرگندېږي چې د پنجابي ملا، میا، پیر او حضرت د اسلام د برحقه پیغام د خپرولو، د اسلام له دښمنانو سره د مبارزې او په پنجاب واکمنه پاکستان کې د اسلام د شرعي سیاست، سیادت او حاکمیت د خپرولو او ورته د کار کولو پر ځای، دوی د اسلام د بدنامولو، تخریب او حتا تحریف ماموریت مخ ته وړي او د دوی ننوتل د پنجابي- فرنگي فیډریشن استخباراتي حمام ته له دوی څخه د دې ټولنې د عزت، شرف او دیني وراثت لباس ویستونکي رول لوبول غواړي.

پر همدې بنسټ، په افغان قضایاوو کې د پنجاب د پروتوکولي، درباري، استخباراتي او بدنامو ځیره خوارو په اصطلاح ملایانو دریځ که په هره بڼه او نیت وي؛ ناوړه، شریر او فاسد گڼو، غندو یې او د امریکایي یرغل د مدافعینو پټه، سړه او ځارگریزه وسله او وسیله یې گڼو.

# جگړه او بوړنوونکي تبلیغات؛

## د سولې فعالین: د حکومت او طالبانو اوسنی دریځ د سولې فرصت ضایع کولی شي



سره له دې چې د بین الافغاني مذاکراتو له پیل نږدې دوې میاشتې تېرېږي، خو په دې موده کې تر سولې پر جگړه ډېر تمرکز دی او دواړه لورې تر مذاکراتو جگړه ډېره کوي. له دې ټولو سره سره، طالبان او حکومت د یو بل پر ضد سخت تبلیغات کوي او هڅه کوي یو بل د خونړیو بریدونو او پېښو مسوول وبولي. د سولې د برخې فعالین بیا وایي چې د حکومت او طالبانو دا چاره به د افغان ملت لپاره د جگړې د ختمولو رامنځ ته شوی فرصت ضایع کړي او خونړۍ پېښې به دوام کوي. نړیوالې اداري هم وایي چې په وروستیو کې په افغانستان کې تاوتریخوالی ډېر شوی دی.

د بین الافغاني خبرو له پیل سره سم تمه دا وه چې په افغانستان کې به جگړې کمې شي او ژر تر ژره به یو دایمي اوربند رامنځ ته شي، خو هر څه برعکس شول، جگړې شدیدې شوې او د سولې خبرې خورا ټکنۍ مخ ته روانې دي. د سیگار د تازه راپور پر بنسټ، وسله والو طالبانو په وروستیو دریو میاشتو کې تاوتریخوالی ډېر کړی دی. دې ادارې په خپل یوه تازه راپور کې ادعا کړې چې طالبانو په وروستیو دریو میاشتو کې د دریو مخکینیو میاشتو په پرتله په تاوتریخوالي کې پنځوس سلنه ډېروالی راوستی دی. تر دې وړاندې د ملگرو ملتونو په گډون نورو نړیوالو بنسټونو هم په افغانستان کې تاوتریخوالی د اندېښنې وړ ښودلی و او په وینا یې، اوسنۍ کچه یې بوړنوونکې ده.

یوازې دا نه دي، بلکې افغان حکومت او طالبان دواړه د دې پر ځای چې د سولې لپاره هڅې وکړي، د جگړې په تودولو بوخت دي او د یو بل پر ضد پراخ جنگي تبلیغات کوي. طالبان افغان حکومت د ملکي مرگ ژوبلې او هوایي بریدونو مسوول بولي، خو افغان حکومت بیا ټینگار کوي چې طالبانو تاوتریخوالی ډېر کړی او پر ښارونو یې بریدونه پیل کړي دي. تر ټولو وروستۍ پېښه پر کابل پوهنتون برید و، چې طالبانو پکې لاس لرل رد کړل، خو افغان حکومت یې د دې ډلې کار بولي.

د سولې د برخې فعالین بیا دا هر څه د اندېښنې وړ بولي او غوښتنه کوي چې دواړې خواوې دې له نرمښت کار واخلي او له داسې څرگندونو او اقداماتو دې ډډه وکړي چې هغه د بهرنیانو په گټه وي او جگړې شدیدې کړي. پخوانی طالب چارواکی او د سولې د برخې فعال سید اکبر اغا وایي، د مذاکراتو په ټکني کولو او جگړو په شدت کې د بهرنیانو لاس دی او دوی نه غواړي چې افغانان ژر سولې ته سره ورسېږي. د ده په خبره: «یو مسوولیت بهرنیانو ته راجع دی، چې دوی قصداً موږ داسې یوې مرحلې ته رسولي یو. دوی غواړي وښیي چې په افغانانو کې د سولې استعداد نشته، دوی پخپلو کې نه دي جوړ، نو ځکه جگړې اوږدې شوې)).

نوموړی همدا راز وایي، که حکومت او طالبان په خپلو دریځونو کې نرمښت ونه ښیي، د یو بل پر ضد داسې څرگندونې وکړي چې د سولې روانه پروسه تخریب کړي، نو ښایي افغانان د سولې لپاره رامنځ ته شوی فرصت له لاسه ورکړي او لامل به یې هم د دواړو لورو اوسنی دریځ وي. هغه وایي: ((دواړه په دې وختو کې داسې څرگندونې کوي چې له سولې سره کومه مرسته نه شي کولی. یوازې دا پروسه به له خنډ سره مخ شي او داسې ښکاري چې فرصت د ضایع کېدو په حال کې دی)).

ځینې سیاسي جهتونه بیا وایي چې په حکومت کې د سولې اراده نشته ده، نو ځکه جگړې اوږدې دي او د سولې مذاکرات له خنډ سره مخ دي. د جمعیت اسلامي سرپرست صلاح الدین رباني په خپلو څرگندونو کې تور پورې کړی چې د افغان حکومت د ځینو چارواکو گټې په جگړه کې دي، نو ځکه سوله له خنډونو سره مخ ده. هغه وایي: ((ځینو خو د دې وطن د ورانولو ماموریت اخیستی او د ځینو بیا گټې په جگړه کې دي، ځکه نو په حکومت کې د سولې اراده نشته ده)).

د سولې د برخې فعال سید اکبر اغا بیا په دې باور دی چې طالبان او حکومت دې ملت ته د درېیمگړي په توگه مراجعه وکړي او د ملت له منځه دې هغو کسانو ته د سولې راوستو او منځگړي صلاحیت ورکړي چې خیرغوښتونکي وي او په هېڅ بهرني لورې پورې تړاو ونه لري.

# امریکا د واک د گړنگ پر غاړه؛

## ټرمپ او جوبایډن په جلا جلا ډول په ټاکنو کې د خپلې بریا اعلان کړی







په داسې حال کې چې د امریکا د ولسمشرۍ د ټاکنو رایه شمېرنه روانه ده، د جمهوري غوښتونکو کاندید او اوسني ولسمشر ډونالډ ترمپ دوه ځلې خپله بریا اعلان کړې ده.

د ټرمپ اساسي شکایت د هغو رایو په اړه دی، چې رایو ورکوونکو په مستقیم ډول په صندوقونو کې نه دي اچولې. میلیونونه رایې د پوځیانو، عامو خلکو، له هېواده بهر امریکایانو او یو شمېر زیاتو هغه کسانو له خوا چې د کرونا ویروس له امله له خپلو کورونو نه دي وتلي، د پست له لارې لېږل شوې دي.

په امریکا کې ټاکنې د ایالتي قوانینو پر بنسټ کېږي، نه د فدرالي او مرکزي سیستم له مخې، نو له همدې کبله د ټاکنو لپاره یو واحد شکل نشته او د ټاکنو پر ورځ خلک یوازې جمهور رییس ته رایه نه ورکوي، بلکې د کانگرېس غړي او پارلماني ایالاتونه هم ټاکي چې همدغه سیمه‌ییز پارلمانونه بیا په محلونو کې د ټاکنیزو مبارزو څرنگوالی غوره کوي.

نو له همدې امله په امریکا کې د ټاکنو لپاره په هر ایالات کې د رایې ورکونې لپاره څو طریقې په نظر کې نیول شوې، رای ورکوونکي کولای شي د عنعنوي پست، ایمیل او یا په حضوري ډول خپلې رایې وکار وي.

همداراز هر ایالات د رایو ورکوونکو، د ثبت طریقه او غیر حضوري رایو د لاسلیک څار پخپله کوي، نو په دې بنسټ بېلابېل عوامل کولای شي د ټاکنو پر پایلو اغېز وکړي.

په غیر حضوري رایو کې یوه مهمه خبره دا ده چې رایه باید د ټاکنو د ورځې له پای ته رسېدو وړاندې ورکړل شي او د دې رایې د ثابتېدو لپاره باید پستي سند موجود وي.

که رایه د ټاکنو د ورځې تر پای ته رسېدو وړاندې ورکړ شوې وې، ستونزه نه شته چې دا رایه تر ټاکنو وروسته ټاکنیز مرکز ته وسپارل شي او حساب شي، خو دا چاره رایه شمېرنه ځنډوي. تر دې وړاندې جمهور رییس ټرمپ د نومبر په پنځمه ادعا وکړه چې په میشیگن ایالت کې انتخاباتي کارکوونکو هغه څارونکو ته اجازه نه ده ورکړې چې غوښتل یې د ده په خبره تکراري رایې وشمېري.

خو د ولسمشر ټاکنیزه ډله د حقوقي دعوا په برخه کې پاتې راغله او قاضي په میشیگن ایالت کې حکم وکړ چې د رای شمېرنې بهیر د درولو لپاره هېڅ ډول قانوني اساس نه شته.

د امریکا په ټاکنو کې نړیوال نظارت هم رول لري، د اروپا د همکاریو او امنیت ټولنې له دې وړاندې د امریکا په اتو ټاکنو کې د څار دنده درلوده چې د ۲۰۱۸ ز کال منځ پړاویزو ټاکنو ته یې د څار یو موقت پلاوی هم استولی و.


که څه هم چې په ډېریو ایالتونو کې د جوبایډن د رایو شمېر تر ټرمپ لوړ دی، خو ټرمپ نوموړي ته خبرداری ورکړی چې د بریا ادعا دې نه کوي. په ورته وخت کې بایډن ویلي چې رایې یې لوړې دي او ډاډه دی چې دا ټاکنې یې گټلې دي.

## د کتاب خبرې

# د جاسوسۍ پېښلړ
# ISI, RAW
# او د سولې وهم

◎ لیکوالان: اې. اېس دولت، اسددوراني او ادیتیا سېنها
◎ ژباړه: د اکسوس د ژباړې بورډ

### دویمه برخه
**د نړۍ دویم تر ټولو زوړ مسلک**



کله چې زه ISI ته لاړم، دوبي راسره ولیدل او د رسمي سفر بلنه راکړل شوه. د ISI مشران حتی په غوره شرایطو کې هم معمولاً نه غواړي چې د هند د سفر بلنې ومني، خو زه لاړم او د ماني ډېکشېت له لوري مې هرکلی وشو. موږ د هغه د لور په اړه چې د سند په تړاو یې څېړنه کوله، مجلس وکړ او بیا مې یو څو دقیقې له دوبي سره یو په یو خبرې وکړې.
دویم ګډون مې په نیپال کې و چې د دې هېواد له لوري د ملي ورځې نمانځنې پروګرام ته وربلل شوی وم. هغه سفیر، جنرال، ډېر ځیرک انسان و. له موږ دوو تنو پرته په هرکلي کې نور څوک نه وو. یوازې د نیپال سفیر او د ISI مشر. کله چې نوموړی زما له راتګه خبر شوی و، خوشاله و او ټول کارونه یې پرېښي وو. هغه غوښتل چې له ماسره یو په یو ووینې.
دولت: ما په نیپال کې درې کاله د دریو سفیرانو تر مشرۍ لاندې خدمت کړی، زما دنده د ډیپلوماټیکو خدماتو په برخه کې وه. ما هلته ډېر ملګري پیدا کړي وو او د دې ملګرتیا یو مهم عامل کرېکټ و، ځکه چې ما به ډېرې لوبې کولې. نیپال اوس د کرېکټ ملي لوبډله لري چې په ۲۰۱۷ کال کې بنګله دېش ته تللې وه. هغه مهال په نیپال کې د کرېکټ پنځه – شپږ کلبونه وو. د هند سفارت یوه لوبډله لرله. هغوی هلته دوه ټورنمنټونه لرل چې یو لیګ او بل ناک اوټ و. ما د هند د سفارت په استازیتوب پکې برخه اخیسته او په دې توګه مې له ګڼو نیپالیانو سره اړیکې جوړې کړې وې. ما ډېر ملګري پیدا کړل. په دې درېیو کلونو کې د هند د سفارت لوبډله پر یوې پیاوړې لوبډلې بدله شوې وه. په پای کې مو لیګ او ناک اوټ دواړه وګټل. له یوه مرکب نیپالي ټیم سره مو هم لوبه وکړه او هغه مو هم مات کړ.
سېنها: همدا لامل دی چې هغوی درته مشر ورور وایي.
دوراني: د هغوی ماتول ښه کار نه و. موږ یو وخت په برونای کې د پولو ټورنمنټ درلود چې امریکایي لوبډله راغله او موږ ته یې مشوره راکړه چې باید د سلطان لوبډله ماته نه کړو. دا هغه تګلاره وه چې بیا بیا دعوت شوو.
دولت: ښایي هغوی ته ماتې ورکول به ښه نه وو، خو وروسته د نیپال ټیم پرمختګ وکړ. وړاندې له دې چې کټمنډو پرېږدم، بلنه راکړل شوه چې نیپال ته لوبه وکړم، هغوی په ټایلنډ کې د یوې سیالۍ لپاره بېنکاک ته روان وو چې هلته له ځینو کلبونو سره لوبې پلان شوې وې. ما وویل، ډېر به خوشاله شم چې لاړ شم، خو زه نیپالی نه یم. غوره ده چې ګډون پکې ونه کړم. هلته خلک په کرېکټ کې ډېر مشهورېږي. هلته د (ټنډیکل) په نامه د پرېډ د اجرا یو ستر میدان دی چې پوځي پرېډونه پکې کېږي او په دې ورځ د کرېکټ لوبې هم ترسره کېږي. هلته لوبه روانه وه او موږ په کټمنډو کې له یوه مشهور کلب سره لوبې کولې چې د (جنټل مین کرېکټ کلب) په نامه یادېده. ما د لوبغالي له څنډې څخه ننداره کوله. بېټسمن اوټ شو او یو ځوان زما خوا ته راغی ویې پوښتل چې لوبه د چا تر منځ ده. ما وویل د هند سفارت او جنټل مین کلب تر منځ. هغه زه ونه پېژندلم او پوښتنه یې وکړه چې دولت څومره منډې وکړې؟ زه نور وهڅېدم. خو زموږ سفیر زما په اړه نوي ډیلي ته راپور ورکړی و چې له کرېکټ پرته بل کار نه لرم.
دوراني: زه هم د پوځ د یوه مشهور قومندان له لوري همداسې وستایل شوم. له نوموړي غوښتنه شوې وه چې که چېرته زه له قول اردو بهر بل چېرته ولېږدول شم. هغه د هو ځواب ورکړ او ویې ویل تر څو چې نوموړی همدلته وي، د ګلف په راتلونکي ټورنمنټ کې به برخه واخلي. سره له دې چې د هغه د کنډک یو قوماندان و، خو د کار نه و.
سېنها: په پوځي استخباراتو کې د دندې پر مهال مو که کومه په زړه پورې خاطره یا کیسه راته ووایاست؟
دوراني: د عبدالقدیر خان په اړه به یوه کیسه وکړم. د پوځي استخباراتو له مشر سره یوه ورځ د ملي ورځې په مناسبت ځانګړې غونډې ته تللی وم. ګڼ شمېر موټر راغلل، خلک ترې ښکته شول او غونډې ته لاړل. کله چې ببرته وتل، په دروازه کې مؤظف کس د مېلمنو هرکلی کاوه. غږ یې وکړ چې د جنرال صېب دوراني موټر دې راشي. یاد مېلمه پالونکی په دې وخت کې زما خوا ته راغی او راته یې وویل چې جنرال صېب کار درسره لرم. ورته مې وویل څه خبره ده. هغه وویل: وګوره عبدالقدیر خان په دا ډول پروګرامونو کې څه کوي؟ په دې مانا چې دا سړی باید له داسې ځایونو لرې وساتل شي. هغه وویل ښاغلیه زه په چا کار نه لرم یوازې خپله دنده ترسره کوم، ما هېڅکله نه دي ویلي چې د عبدالقدیر خان موټر دې راشي، بلکې وایم چې د ډرېور فضلو خان موټر دې راشي، ځکه هېڅوک باید پوه نه شي چې عبدالقدیر خان دلته و. زه کوښښ کوم چې د دې سړي نوم پټ وساتم. خو هغه تل دلته راځي او په هر پروګرام کې برخه اخلي. **دوام لري...**

# راه ابریشم د لوړو زده کړو خصوصي موسسه

حمیدالله حمیدي




راه ابریشم د لوړو زده کړو خصوصي موسسې له نن څخه دوه کاله وړاندې د لوړو زده کړو وزارت په منظورۍ، په کابل ولایت کې د دوو متفاوتو پوهنځیو (عامې روغتیا او مخابراتي ټکنالوژۍ) په درلودلو سره فعالیت پیل کړ. د دې موسسې علمي مرستیال سید نبي سادات وايي، دوی د نورو خصوصي پوهنتونونو په پرتله متفاوت پوهنځي لري، چې له دې پوهنځیو څخه فارغ شویو محصلینو ته به ډېرې اسانۍ دنده پیدا کېږي او ان داسې چې ځینو ته یې له فراغت مخکې د دندې وړاندیز کېږي. دی وايي چې د کار مارکېټ او اړتیا ته په کتو یې دغه پوهنځي جوړ کړي دي.
سید نبي سادات وايي چې پوهنځي یې بیا په خپل چوکاټ کې بېلابېلې برخې لري، چې د ټولنې لپاره ګټورې دي. د بېلګې په توګه، په عامې روغتیا ډېپارټمنټ کې د ناروغیو پېژندې او عامه پوهاوي برخې لري، چې دواړې یې ډېرې مهمې او ګټورې دي. په دې پوهنځي کې محصلین د بېلابېلو ناروغیو په اړه معلومات حاصلوي او تر څنګ یې د عامه پوهاوي په ورکولو کې تجربې اخلي، چې دغه څه د یوې ټولنې لپاره خورا ضروري دي. د دې تر څنګ د واکسینو د ارزښت او واکسین کولو او درمل جوړولو په برخه کې هم محصلین روزي، چې دغه ډول کسانو ته نن سبا د کار په مارکېټ کې ډېره اړتیا لیدل کېږي. دی وايي، کڅه هم چې په دې برخه کې ډېر لږ کسان مراجعه کوي څو زده کړې وکړي، خو هغه کسان چې د دوی له موسسې څخه فارغېږي، کولای شي په ډېرې اسانۍ سره د ځان لپاره دنده پیدا کړي او تر څنګ یې خپلې ټولنې ته خدمت هم وکړي.
په راه ابریشم د لوړو زده کړو موسسه کې اوسمهال ۲۷۰ محصلین پر زده کړو بوخت دي، چې له دې ډلې ۱۲۰ یې ښځینه دي. دا چې د لوړو زده کړو د دې موسسې تر اوسه پورې د فعالیت دومره موده نه کېږي، نو د ماسترۍ کوم پروګرام هم نه لري. نبي سادات وايي، کله یې چې د پوهنځیو شمېر یو څه زیات شو او له موسسې څخه یې پوهنتون ته ارتقاع وکړه، نو له هغه وروسته به د ماسترۍ په پروګرام هم فکر وکړي. سید نبي سادات وايي چې دوه کاله وروسته به ځینې پر کار پوه او تجربه لرونکي کسان فارغ او ټولنې ته به یې د خدمت په موخه وړاندې کړي.
راه ابریشم د لوړو زده کړو موسسه هر کال د ۲۰۰ په شاوخوا کې نوي محصلین جذبوي. ښاغلی نبي سادات وايي، دا چې دوی نوی فعالیت پیل کړی دی، نو په کلني ډول یې د نویو محصلینو د جذب کچه هم دومره لوړه نه ده او دا چې سږ کال په ټوله نړۍ کې د کرونا ناروغي خپره شوه او افغانستان کې هم ور سره ښوونځي، پوهنتونونه او نور ښوونیز مرکزونه وتړل شول، نو تر اوسه پورې یې نوي محصلین نه دي جذب کړي. د نوموړي په خبره، لوړو زده کړو وزارت خصوصي پوهنتونونو ته ځانګړې مهالوېش جوړ کړی دی، چې له مخې به یې خصوصي پوهنتونونه د کانکور ازموینه اخلي او نوي محصلین به جذبوي. د لوړو زده کړو دغه موسسه د تخفیف په برخه کې بېلابېلې کټه‌ګورۍ لري، چې له مخې یې محصلینو ته تخفیف ورکول کېږي. ښاغلی نبي سادات وايي، هڅه یې دا ده چې ټولو هغو محصلینو ته د لوړو زده کړو زمینه برابره کړي، چې نه شي کولای د اقتصادي ستونزو له امله لوړې زده کړې وکړي. د راه ابریشم د لوړو زده کړو موسسې ته د ورځې په دوو وختونو کې محصلین د زده کړو لپاره ورځي.
راه ابریشم د لوړو زده کړو موسسې د خپلو محصلینو او استادانو لپاره د کتابتون امکانات هم برابر کړي دي چې محصلین او استادان یې کولای شي له دې کتابتون څخه ګټه واخلي او د خپلې خوښې کتابونه پکې مطالعه کړي. د لوړو زده کړو د دې موسسې علمي مرستیال وايي، چې دوی دوه ډوله کتابتون لري؛ یو یې فزیکي او بل هم ډیجیټالي کتابتون دی چې محصلین او استادان یې دواړو ته لاسرسی لري. پارکېنګ، ټرانسپورټ، کمپیوټر لب او لابراتوار د راه ابریشم د لوړو زده کړو موسسې له امکاناتو څخه دي. د لوړو زده کړو په دې موسسه کې د نظري زده کړو تر څنګ، محصلینو ته د عملي زده کړو زمینه هم برابره شوې ده او په څنګ کې ور سره د محصلینو د وړتیاوو لوړولو او تجربې تر لاسه کولو لپاره وخت ناوخت ورکشاپونه او سمینارونه هم جوړېږي.
د لوړو زده کړو دغه موسسه په کور د ننه او بهر دواړو کې له دولتي او خصوصي پوهنتونونو سره ښې علمي اړیکې لري. سید نبي سادات وايي چې تر څنګ یې له هېواده بهر له دوو ترکي او یوه هندي پوهنتون سره د علمي اړیکو هوکړې هم لري او له تجربو یې ګټه اخلي. په دغه موسسه کې د تدریس چارې د ځینو پر کارپوه او تجربه لرونکو استادانو لخوا مخ ته وړل کېږي، چې د دوکتورا، ماسترۍ او لېسانس تر کچې پورې لوړې زده کړې لري.
د راه ابریشم د لوړو زده کړو موسسې اداره له افغان دولت غواړي، چې د خصوصي پوهنتونونو په څېر بنسټونو ته د ځانګړې برېښنا د ورکړې زمینه برابره او دایمي ځایونه ورکړي، څو په ډاډه زړه پکې هغه ودانۍ جوړې او امکانات برابر کړي چې ورته اړتیا لري او تر څنګ یې د مالیاتو په برخه کې ورته تخفیف ورکړي، ځکه په کومه کچه مالیه چې اوس له دې بنسټونو څخه اخیستل کېږي، ملاماتوونکې ده او نه شي کولی دغه بنسټونه پر خپلو پښو ودرېږي او خپلو خدماتو ته ادامه ورکړي.
د نویو پوهنځیو ایجادول، له موسسې څخه پوهنتون ته ارتقاع کول، د ماسترۍ پروګرام پیلول، د سیمې او نړۍ په کچه موسسې ته پرمختګ ورکول، د کتابتون غني کول او محصلینو ته ټول هغه امکانات برابرول چې د لوړو زده کړو یوه موسسه یا پوهنتون یې باید ولري، دا ټول د راه ابریشم د لوړو زده کړو موسسې راتلونکي پلانونه دي.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۶.۹۰ |
| € | ۹۰،۲۰ |
| Rp. | ۴۷۸ |
| ₹ | ۱۰٤۰ |
| ¥ | ۱۰،٦۰ |
| £ | ۹۹،۵۰ |

### بیړنۍ شمیرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالۍ زیږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیايي مرکز
166

مسیر ورځپاڼه

**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي

**مرستیال:** شفیق امیرزی

**ایډیټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي

**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین

او حشمت الله نوري

**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان

**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦

۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦

maseerdaily@gmail.com

0202502100 / 0777989696

www.maseerdaily.af

Maseer Daily

MaseerDaily

همیانی

# کمبود چه ویتامینی باعث بی‌خوابی می‌شود؟

**احمد فردوسی**

رژیم غذایی ما تأثیر چشمگیری بر وضعیت خوابمان دارد؛ اما تشخیص تأثیر هر ماده مغذی بر خواب دشوار است. برخی ویتامین ها و مواد مغذی می‌توانند به تنظیم ساعت بیولوژیک بدن و خواب بهتر کمک کنند. در این مطلب، تأثیرات مثبت و منفی ویتامین‌ها و سایر مواد مغذی بر خواب را بررسی می کنیم و به این سؤال پاسخ می‌دهیم که: «کمبود چه ویتامینی باعث بی‌خوابی می‌شود؟»

ممکن است فرد نتواند تمام مواد مغذی موردنیازش را از طریق غذاها دریافت کند. در این مواقع، مصرف مکمل های غذایی در پرکردن این جای خالی بسیار مؤثر است. پیش از مصرف مکمل‌ها، بهتر است سعی کنید با تغییر رژیم غذایی‌تان، ویتامین‌های موردنیازتان را به‌طور طبیعی از غذاها دریافت کنید. همچنین قبل از مصرف مکمل‌ها، باید با داکتر درباره ضرورت مصرف آنها و مقدار مورد نیاز مشورت کنید.

**ویتامین D**

بسیاری از ما از نقش مثبت ویتامین D بر سلامت استخوان آگاه هستیم. این ویتامین به تنظیم خلق‌وخو، تقویت سیستم ایمنی و کنترل التهابات کمک می‌کند. به نظر می‌رسد ویتامین D تأثیر چشمگیری در بهبود خواب داشته باشد؛ از این‌رو کمبود ویتامین D مشکلاتی را برای خواب افراد ایجاد می‌کند.

**تأثیر ویتامین D بر کیفیت و کمیت خواب**

پژوهش‌های زیادی از تأثیر ویتامین D بر کیفیت و کمیت خواب حکایت دارند. پژوهشی جدید نشان داد که کمبود ویتامین D با کوتاه‌شدن مدت خواب در ارتباط است. این پژوهش نشان می‌دهد میان خواب ناکافی و کمبود ویتامین D در بدن افراد ارتباطی برقرار است. این تأثیر در افراد ۵۰ساله و مسن‌تر شدیدتر بود. بیش از نیمی از شرکت‌کنندگان در این پژوهش، از کمبود ویتامین D رنج می‌برند.

کمبود ویتامین D امر شایعی در جوامع مختلف است. در سال ۲۰۱۸ دانشمندان در دانشگاه چینگ‌دائو چین یافته‌های چندین پژوهش را بررسی کردند تا نقش ویتامین D را بر کیفیت و کمیت خواب مشخص کنند. بر اساس یافته‌های آنها، میان کمبود ویتامین D و خواب کم ارتباط پررنگی برقرار است. همچنین بر اساس این یافته‌ها، کمبود ویتامین D بر کیفیت خواب افراد هم تأثیر منفی دارد.

**تأثیر ویتامین D بر وقفه تنفسی در خواب**

بعضی از پژوهش‌های جدید وجود ارتباط میان کمبود ویتامین D و افزایش خطر وقفه تنفسی در خواب (آپنه خواب) را نشان می‌دهند. کمبود ویتامین D بر شدت وقفه تنفسی در خواب تأثیر می‌گذارد. در چندین پژوهش، سطح پایین ویتامین D با افزایش موارد وقفه تنفسی در خواب در ارتباط بوده است. فشار جریان هوای همواره مثبت (CPAP) روش استاندارد درمان وقفه تنفسی در خواب است. این روش حالتی از دستگاه جریان هوای مثبت است که فشار هوای ملایمی را به‌صورت مداوم ایجاد می کند. به‌کمک این روش، می‌توان راه هوایی بیمارانی را که خودشان نمی‌توانند بی‌اختیار نفس بکشند باز نگه داشت. تحقیقات نشان داده‌اند که استفاده بلندمدت از این روش موجب افزایش چشمگیر سطح ویتامین D در بدن می‌شود. در نهایت، این دو عامل با کمک یکدیگر موجب کاهش علائم وقفه تنفسی در خواب می‌شوند.

**تأثیر ویتامین D بر ساعت زیستی بدن**

ویتامین D با کمک به تنظیم ساعت زیستی یا ساعت بیولوژیکی بدن به خواب بهتر کمک می کند. پژوهشی جدید نشان داد که ویتامین D دو ژن مؤثر بر ساعت زیستی بدن را فعال می کند؛ در نتیجه، این ویتامین به تنظیم ساعت خواب کمک می کند.

روشنایی و تاریکی مهم‌ترین عوامل تنظیم ساعت زیستی بدن هستند. نور خورشید بهترین منبع دریافت ویتامین D است؛ بنابراین دریافت روزانه نور خورشید راهی برای تنظیم چرخه‌های خواب است.

**منابع دریافت ویتامین D**

برخلاف سایر ویتامین‌ها، مهم‌ترین منبع ویتامین D تغذیه نیست، بلکه نور خورشید بهترین منبع برای دریافت این ویتامین است. بدن با قرارگرفتن در معرض نور خورشید، ویتامین D را می‌سازد. به همین دلیل ویتامین D را می‌توان جزو هورمون‌ها طبقه‌بندی کرد. علاوه بر نور خورشید، غذاهایی مانند ماهی‌های چرب، زرده تخم‌مرغ و غذاهای غنی‌شده با ویتامین D مانند برخی لبنیات و آب‌میوه‌ها نیز منابع دریافت این ویتامین هستند.

**ویتامین E**

ویتامین E یک آنتی اکسیدان قوی است که به تنظیم عملکرد سلول‌ها و محافظت از آنها در برابر آسیب‌ها کمک می‌کند. همچنین ویتامین E در تقویت دستگاه ایمنی نیز مؤثر است. ظرفیت آنتی‌اکسیدانی ویتامین E به بهبود مشکلات خواب و مشکلات ناشی از کم خوابی کمک می‌کند.

ویتامین E به مبارزه با سندرم پای بیقرار کمک می‌کند؛ از این‌رو به این افراد کمک می‌کند راحت‌تر به خواب بروند.

همچنین بر اساس یافته‌های پژوهش‌ها، این ویتامین در کاهش گرگرفتگی و عرق‌کردن‌های شبانه در زنان یائسه مؤثر است و کیفیت خواب آنها را افزایش می‌دهد. یکی از تأثیرات کم‌خوابی بروز اختلالات حافظه است. در طول خواب، در هر دو مرحله خواب با موج آهسته و خواب با حرکات سریع چشم، مغز خاطرات و آموخته‌های جدید را پردازش می‌کند. با خواب ناکافی، فرد در به‌خاطرآوردن خاطرات کوتاه‌مدت و درازمدت دچار مشکل می‌شود.

ویتامین E به‌لطف ظرفیت آنتی‌اکسیدانی‌اش به سلامت مغز و عملکرد آن کمک می‌کند. تحقیقات نشان داده‌اند ویتامین E بر اختلالات حافظه ناشی از کمبود خواب تأثیر مثبتی دارد. بر اساس آزمایشی در سال ۲۰۱۲، ویتامین E از اختلالات حافظه ناشی از کمبود خواب در موش‌ها کاست. همچنین ویتامین E از هیپوکامپ (هیپوکمپوس) محافظت می‌کند. هیپوکامپ بخشی از مغز است که به تثبیت خاطرات کمک می‌کند. بر اساس پژوهش‌ها، کمبود خواب تأثیر مخرب چشمگیری بر فعالیت هیپوکامپ دارد.

**تأثیر ویتامین E بر وقفه تنفسی در خواب**

مبتلایان به وقفه تنفسی در خواب اغلب دچار کمبود ویتامین E هستند. بر اساس پژوهش‌ها، افزایش مصرف ویتامین E در کنار ویتامین C و سایر آنتی‌اکسیدان‌ها در بهبود تنفس و کیفیت خواب در مبتلایان به وقفه تنفسی در خواب مؤثر است.

مصرف مقدار کافی ویتامین E از تأثیر منفی کم‌خوابی بر تولید هورمون تستوسترون می‌کاهد. کمبود خواب موجب کاهش سطح تستوسترون می شو د .

**منابع دریافت ویتامین E**

مغزها و دانه‌ها مانند (بادام، بادام زمینی، فندق و تخمه آفتاب‌گردان)، سبزیجات مانند (اسفناج، کلم بروکلی، گوجه فرنگی)، چربی‌ها مانند (روغن جوانه گندم، روغن ذرت و روغن سویا) از منابع غذایی سرشار از ویتامین E محسوب می‌شوند.

**ویتامین C**

ویتامین C با خاصیت آنتی‌اکسیدانی قوی، تأثیر چشمگیری در حفظ سلامت دستگاه ایمنی دارد. ویتامین C برای سلامت دستگاه قلبی- عروقی و کلاژن‌سازی ضروری است. کلاژن بر سلامت استخوان، دندان و سلامت پوست مؤثر است. علاوه بر این فواید، ویتامین C برای خواب نیز مفید است.

ویتامین C به‌تنهایی و یا همراه با سایر آنتی‌اکسیدان‌ها در بهبود وقفه تنفسی در خواب مؤثر است. بر اساس پژوهشی در سال ۲۰۰۹، مصرف ۱۰۰ میلی‌گرم ویتامین C همراه با ۴۰۰ واحد (IU) ویتامین E به بهبود کیفیت خواب کمک می‌کند و از خواب‌آلودگی در روز می‌کاهد.

یکی از عوارض ناشی از وقفه تنفسی در خواب بروز بیماری های قلبی- عروقی است. مبتلایان به وقفه تنفسی در خواب بیشتر در معرض فشار خون بالا، مشکلات مرتبط با سوخت و ساز مانند چاقی و آریتمی (کژآهنگی یا اختلال ریتم قلبی) و سایر بیماری‌های قلبی-عروقی قرار دارند. همچنین وقفه تنفسی در خواب با بروز مشکلاتی در لایه درون‌رگی (اندوتلیال) در ارتباط است. لایه درون‌رگی لایه نازکی از سلول‌هاست که درون رگ‌های خونی و لنفاوی را می‌پوشاند. بروز این مشکل گردش خون را با اختلالاتی مواجه می‌کند. بر اساس تحقیقات، ویتامین C به عملکرد بهتر لایه درون‌رگی در مبتلایان به وقفه تنفسی در خواب کمک می‌کند؛ در نتیجه، بخشی از فشار واردشده بر دستگاه قلبی- عروقی را می‌کاهد که ناشی از این مشکل است.

**تأثیر ویتامین C بر کیفیت و کمیت خواب**

پایین‌بودن سطح ویتامین C در بدن با خواب کم در ارتباط است. پژوهشی از دانشمندان دانشگاه پنسیلوانیای کشور آمریکا در سال ۲۰۱۳ نشان داد، کسانی که کم می‌خوابند (کمتر از ٦ ساعت در شبانه‌روز)، میزان دریافت ویتامین C کمتری دارند. سطح پایین ویتامین C در خون احتمال بروز اختلالات خواب را افزایش می‌دهد.

ویتامین C نیز مانند ویتامین E تأثیر کم‌خوابی را بر اختلالات حافظه کاهش می‌دهد و از مغز محافظت می‌کند.

**منابع دریافت ویتامین C**

مرکبات منبع خوبی از ویتامین C هستند. کلم‌بروکلی، گل کلم، کلم بروکسل، کلم‌برگ، اسفناج، فلفل قرمز و سبز، توت فرنگی و کیوی نیز جزو غذاهای سرشار از ویتامین C هستند.

# د ولسي جرگې بیړنۍ ناسته د صالح او محب د نه گډون او ناندریو له کبله بې پایلې وه

ولسي جرگې د وروستیو نا امنیو په اړه تېره ورځ خپلې فوق العاده غونډې ته د ولسمشر د لومړي مرستیال په گډون امنیتي چارواکي ورغوښتي وو، خو دا ناسته بې پایلې وه.

د شنبې د ورځې دې غونډې ته د کورنیو چارو سرپرست وزیر محمد مسعود اندرابي، د دفاع وزارت سرپرست وزیر اسدالله خالد او د ملي امنیت رییس احمد ضیا سراج، د ملي امنیت شورا سلاکار حمدالله محب او د ولسمشر لومړی مرستیال امرالله صالح غوښتل شوي وو.

غونډه د ملي دفاع وزارت سرپرست اسدالله خالد په غوښتنه سرې شوه، خو د ولسي جرگې د لومړي مرستیال محمد میرزا کټوازي په خبره، د دغې جرگې د غړي رمضان بشردوست له لوري گډوډه او بې نتیجې پای ته ورسېده.



خو د ولسي جرگې له ټینگار سره سره، د ولسمشر لومړی مرستیال امرالله صالح او د ملي امنیت سلاکار حمدالله محب جرگې ته نه وو ورغلي. د ولسي جرگې غړي بسم الله محمدي وایي: «باید دوی مجلس ته راغلي وای، دا زموږ حق دی چې له دوی وضاحت وغواړو، دا دومره جنرالان او لوړپوړي نور پوځیان د څه لپاره دي چې د ټولو چارو مسوولیت (امرالله صالح) په خپله غاړه اخلي، خو حکومت د امنیت د ټینگښت توان نه لري».

ولسي جرگه وایي چې صالح یې ځکه دغې غونډې ته ورغوښتی و چې په دې وروستیو کې نوموړي د کابل ښار د امنیت مسوولیت اخیستی دی، خو د امرالله صالح د خپرونو او عامه اړیکو رییس رضوان مراد وایي، چې ولسي جرگه باید دوی ته د امرالله صالح د ورتگ په اړه پوره وضاحت ورکړي.

هغه زیاتوي: «هرکله چې محترمې ولسي جرگې موږ ته وضاحت راکړ چې په کوم اساس او ولې غواړي چې معاون صاحب ورشي، وروسته کېږي چې معاون صاحب ورشي، هغه هم په استعمایه جلسه کې، ځکه چې د افغانستان د قانون له مخې، ولسي جرگه د لومړي معاون د استیضاح او احضار حق نه لري.»

خو د ملي امنیت شورا د سلاکار دفتر بیا جرگې ته د حمدالله محب د نه ورتگ په اړه څه نه وایي. په ورته وخت کې د ولسي جرگې لومړی مرستیال محمد میرزا کټوازی بیا وایي چې دوی به حکومت ته یوه مصوبه ولېږي چې دا ستونزې حل شي.

# Maseer Daily
New Vision, New Journey



غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایګل چاپ کې تجربه کړئ!
WAYGAL PRINTING CO
if You Can Think it, we Can ink it.
+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul
waygalprinting.co
waygalprinting.co@gmail.com



یکشنبه د ۱۳۹۹ د لړم ۱۸مه | د ۲۰۲۰ د نومبر اتمه | ۶۲۴مه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily


| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۲۲ | ۲٤ | ۲۳ | ۲۳ | ۲۸ | ۲۲ |
| ٦ | ٥ | ۱۱ | ٦ | ۱۲ | ۹ |

شرعي وختونه: سهار ۰۴:۵۵ | لمر ختل ۰۶:۱۹ | ماسپښین ۱۱:۳۸ | مازیګر ۰۲:۳۳ | ماښام ۰۴:۵۵ | ماخوستن ۰۶:۲۱

## نړۍ



امریکا د واک د ګرنګ پر غاړه؛

## ټرمپ او جوبایډن په جلا جلا ډول په ټاکنو کې د خپلې بریا اعلان کړی

۳

## تازه شمېرې: په نړۍ کې د کرونا ویروس مثبتې پېښې نږدې ۵۰ میلیونو ته ورسېدې



د تازه شمېرو له مخې، په نړۍ کې د کرونا ویروس مثبتې پېښې نږدې ۵۰ میلیونو ته رسېدلې دي. دغه راز د یاد ویروس له کبله تر دې مهاله یو میلیون او ۲۵۱ زره او ۳۲۳ کسان مړه شوي او له ۳۵ میلیونه ډېر ترې ببرته رغېدلي دي.
د امریکا متحده ایالتونه د کرونا وبا د ډېرو مثبتو پېښو او مړو له اړخه د نړۍ تر ټولو مخکښ هېواد دی. د راپورونو له مخې، په امریکا کې د کرونا ویروس مثبتې پېښې لس میلیونه او ٦٦ زره او ۴۵۲ ته رسېدلې او ۲۴۲ زره او ۲۹۴ نور امریکایان یې مړه کړي دي.
تر امریکا وروسته هند د کرونا ویروس د اته میلیونه او ۴۷۱ زره او ۷۵٦ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ دویم، برازیل د پنځه میلیونه او ٦۳۲ زره او ۵۰۵ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ دریم، روسیه د یو میلیون او ۷۵۳ زره او ۸۳٦ مثبتو پېښو له کبله د نړۍ څلورم او فرانسه د یو میلیون او ٦٦۱ زره او ۸۵۳ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ پنځم هغه هېواد دی چې د کرونا ډېرې پېښې پکې ثبت شوې دي.
دغه راز هسپانیا، ارجنټاین، برېټانیا، کولمبیا او مکسیکو په ترتیب سره شپږم، اووم، اتم، نهم او لسم هغه هېوادونه دي چې د کرونا ویروس له کبله ډېر ځپل شوي دي.

## اروپایي ټولنې د بېلاروس د ولسمشر په ګډون پر ۱۴ لوړپوړو چارواکو بندیزونه لګولي

اروپايي ټولنې د بېلاروس پر ولسمشر الکساندر لوکاشینکو، د هغه پر زوی او ۱۳ نورو لوړپوړو چارواکو بندیزونه لګولي دي. دې ټولنې په خپله رسمي اعلامیه کې د یادو ۱۵ کسانو نومونه یاد کړي چې د نوي بندیز له مخې به د اروپا له ویزو منع وي او ملکیتونه به یې په اروپایي هېوادونو کې کنګل شي.
دا په داسې حال کې ده چې اروپایي ټولنې په اکتوبر میاشت کې هم پر ۴۰ لوړپوړو بېلاروسي چارواکو ځکه بندیزونه ولګول چې پر لاریون کوونکو په زور زیاتي او هم په ټاکنو کې پر درغلیو تورن شوي وو. د یادونې ده چې په بېلاروس کې د اګست په نهمه الکساندر لوکاشینکو د ولسمشرۍ ټاکنو ګټونکی اعلان شو، خو دې کار د خلکو غبرګون وپاراوه او له هغه راهیسې په یاد هېواد کې پراخ لاریونونه پیل شوي دي. زرګونه کسان د حکومت له خوا د لاریونونو پر مهال نیول شوي، د اپوزیسیون ډېری مشران زندان ته اچول شوي یا له هېواده وتلو ته اړ ایستل شوي دي، خو لاریونوال خبرداری ورکوي، تر هغې چې لوکاشینکو له دندې استعفا ونه کړي، دوی به خپلو مظاهرو ته دوام ورکوي.

## سیګار: اگر طالبان به تعهدات شان عمل نکنند، بر تصمیم خروج نیروهای خارجی اثرگذار خواهد بود



بازرس ویژۀ امریکا برای بازسازی افغانستان یا سیگار در گزارش تازه‌اش نوشته‌است که در سه ماه گذشته خشونت‌ها از سوی طالبان افزایش پنجاه درصدی را نسبت به سه ماه پیشتر از آن نشان می‌دهد.
بربنیاد این گزارش، مقام‌های امریکایی گفته‌اند که گفت‌وگوهای صلح دوحه با بن‌بست روبه‌رو است و افزایش خشونت‌ها از سوی طالبان، روند صلح افغانستان را صدمه می‌زند.
در این گزارش به نقل از پنتاگون نوشته شده‌است که اگر طالبان به تعهدات شان به‌ویژه در بخش تضمین مبارزه با تروریزم عمل نکنند، بر تصمیم امریکا به خروج کامل از افغانستان اثرگذار خواهد بود.
مقام‌های امریکایی تأکید کرده‌اند که برای بقای حکومت افغانستان، پشتیبانی از نیروهای امنیتی افغانستان حتا پس از صلح حیاتی است.
صدیق صدیقی، سخن‌گوی رئیس‌جمهور گفت: «افزایش خشونت‌ها، افزایش حملات، پروسۀ صلح ما را تضعیف می کند. صلح را با خطر مواجه می‌سازد و مردم افغانستان و جامعه جهانی را ناامید می‌سازد.»
نیلوفر ابراهیمی، عضو ولسی جرگه نیز بیان داشت: «تارگیت اصلی طالبان، مردم افغانستان است. نه تنها حملات شان کم نشده بل که در شهرهای بزرگ بیشتر شده و تأکتیک‌های جنگی شان هم فرق می‌کند.»
یافته‌های سیگار از تلفات غیرنظامیان در بین ماه‌های جولای، آگست و سپتمبر نشان می‌دهند که در این سه ماه ۸۷٦ غیرنظامی جان باخته و ۱٦۸۵ تن دیگر زخم برداشته‌اند.

کمک؛

## سازمان رابطه عالم اسلامی به ۱۲۵۰ فامیل اسیب دیده سیلاب های اخیر در پروان مواد غذایي توزیع نمود

سازمان رابطه عالم اسلامی در هماهنگی با وزارت محترم مهاجرین و عودت کننده گان و وزارت دولت در امور رسید گی به حوادث ومقام ولایت پروان به ۱۲۵۰ فامیل که از اثر سیلاب های اخیر در چاریکار ولایت پروان خانه های شان تخریب شده بود، مواد غذائی توزیع نمود که به هر فامیل ( ۱۰ کیلو آرد – ٥ کیلو برنج – ۳ کیلو لوبیا – ۳ کیلو بوره – ۳ لیتر روغن) توزیع نمود.
محترم جنرال فضل الدین عیار والی پروان و حاجی حیات الله سباوون مشاور وزیر امور مهاجرین وعودت کننده گان در پروسه توزیع مواد غذایی که از طرف سازمان مذکور تهیه شده بود، شرکت نمودند وبه خانواده های بی بضاعت موادغذائی را توزیع نمودند و از این كمك های موسسه مذکور اظهار سپاس وامتنان نمودند و از سازمان مذکور خواست تا کمك های شان را همرای عودت کننده گان وبیجاه شده گان ادامه دهد.
والی پروان از مؤسسه مذکور خواست تا در اعمار خانه هایکه از اثر سیلاب ها تخریب گردیده همکاری نماید، و همچنان در عرصه اعمار مساجد و كمك های زمستانی مانند کمپل ها ومواد غذایی نیز همکاری نماید که در زمینه مسؤلین مؤسسه مذکور گفتند که تلاش خواهیم کرد تا در عرصه إعمار خانه های تخریب شده واعمار مساجد در ولایت پروان در اینده نزیك اقدام عملی نماییم.




عزیزي بانک
Azizi Bank

د ازي پې (AZIPAY) پرمختللې بڼه

عزیزي بانک خپلې د ازي پې بڼې ته پراختیا ورکړې چې تاسو ته پراخ خدمتونه او ګټې لکه: بایومټریک ننوتل-د ګوتې او مخ پېژندنې له لارې، څو ژبې (پښتو، دري او انګلیسي) کارول، د ډالرو کارونه، د صورت حساب او کوچنی سټېټمنټ لیدل، د صرافۍ خپلکاره ماشین څخه د ازي پې پرمټ د کارت پرته پیسې وېستل، د مبایل شمېرې ته پیسو استول او د د صرافۍ خپلکاره څخه یې ماشین ترلاسه کول، د مبایل شمېرې ته کریډیټ زیاتول، د بل ادراینه او نورې برخې وړاندې کوي
مهرباني وکړئ نوې بڼه یې له اپسټور او پلې سټور څخه ډونلوډ (ښکته) کړئ، د لازیاتو معلوماتو لپاره 1515 شمېرې سره اړیکه ټینګه کړئ.

www.azizibank.af 1515